اونيزه مجله :345
WEEKLY BOOKLET:345

د امیرِ اهلِ سُنَّت دَامَتْ بَرَکَاتُہُمُ الْعَالِیَه د کتاب "فیضانِ رَمَضان" یو قِسط

# د اجتماعي اعتكاف 12 مدني سپرلي

PASHTO



د اعتكاف فيض انګلينډ ته ورسيدو 03
اعتكاف تهجُّد ګزاره جوړ کړو 12
د اعتكاف په برکت يې کورنۍ جګړه ختمه شوه 07
کاميډين مُبَلِّغ جوړ شو 15

شيخ طريقت امير اهل سنت د دعوت اسلامي بنسټګر حضرت علامه مولانا ابو بلال

محمد الیاس عطار قادری رضوی دَامَتْ بَرَکَاتُہُمُ الْعَالِیَه

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَ الصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ط بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ط

# د اجتماعي اعتکاف 12 مدني سپرلي[1]

دعائے عطّار: یا ربَّ المُصطفےٰ! څوک چې دا رساله "د اِجتماعی اِعتکاف 12 مدني سپرلي" ولولي یا واوري هغهٔ ته د رَمَضان شریف ډیر ډیر برکتونه نصیب کړې او سره د مور او پلار یـې اوبخښي. اٰمِین بِجاہِ خَاتَمِ النَّبِیّین صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

## د دُرود شریف فضیلت

**فرمانِ مُصطَفیٰ** صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د قیامت په ورځ به د **اللّٰه** پاک د عرش نه سِوا بل یو سورے نه وي، درې کسان به د عَرشِ اِلٰهی په سوري کښې وي. عرض اوکړے شو: یا رَسُولَ الله صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم! هٰغه خلق به څوک وي؟ اِرشاد ئې اُوفرمائیلو: ﴿1﴾ هٰغه کس څوک چې زما د اُمَّتي پریشاني لرې کړي ﴿2﴾ زما سُنَّت ژوندے کوونکے ﴿3﴾ په ما باندې کثرت سره دُرُود شریف لوستونکے. (اَلبُدُورُ السَّافِرَة ص۱۳۱ حدیث۳۶۶)

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## دعوتِ اسلامي او د رمضان د میاشتې اِعتِکاف

اعتِکاف ډیر پخوانے عبادت دے، په قرآنِ کریم کښې هُم د دې ذِکر دے، پخوانو اُمَّتونو کښې به هُم خلقو اعتکاف کولو. د عاشقانِ رسول دینی تحریک "دعوتِ

[1] د دې رسالې ټول مدني سپرلي د کتاب "فیضانِ رمضان" صفحه 426 تا 440 نه اخستے شوي دي.

اسلامی "د سنّتو ډک تحریک دے. په ټوله دُنیا کښې د دینِ متین خدمات عاموونکي دې ځانګړي تحریک کښې د تیرو یو څو کالو نه د رَمَضَانُ الْمُبَارَک نۀ صرف د آخرئ عشرې بلکه د رَمَضَانُ الْمُبَارَک د ټولې میاشتې اعتکاف هُم کیږي. اَلْحَمْدُلِلّٰه! تر اوسه پورې پۀ لکونو عاشقانِ رسول د دعوتِ اسلامی د "اِجتماعی اعتکاف" نه فیض یابه شوي دي، او د دې په سبب د سوونو نۀ بلکه د زرګاؤ خلقو په ژوند مَدَنی انقلاب راغلے دے. د شراب عادت لرونکي د شرابو نشه پریښوده او د عشقِ رسول په نشه کښې دیوانه شو، د ګناهونو عادت لرونکے د سُنّتو په لاره روان شو. په لَهْوولَعِب (یعنی لوبو) کښې وخت بربادوونکے ذکر و دُرود لوستونکے جوړ شو، سندرې ویوونکے د خوږ مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَآلِهٖ وَسَلَّم نعتونه ویوونکے جوړ شو، غرض دا چې دې اجتماعی اعتکاف د خلقو ژوند بدل کړو. د هُم داسې یو څو خوش نصیبه عاشقانِ رسول په 12مدني سپرلو مشتمله دا رساله ولولئ، چې هغوئي د سنّتو د مُبَلِّغینو پۀ صُحبت کښې د اوسیدو په سبب په مَدَني رنګ کښې داسې رنګ شول چې نۀ صرف پخپله د سُنّتو په لار روان شول بلکې نورو ته هُم د نیکئ دعوت ورکوونکي جوړ شول. تاسو ته زما دا مَدَنی مشوره ده چې پۀ ژوند کښې کم از کم یو ځل د دعوتِ اسلامي په دیني ماحول کښې د رَمَضَانُ الْمُبَارَک د پوره میاشتې د "اجتماعی اعتکاف" نیت اوکړئ.

اللہ کرم ایسا کرے تجھ پہ جہاں میں　　　اے دعوتِ اسلام تیری دھوم مچی ہو

اٰمِین بِجاہِ خاتمِ النّبیّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَآلِهٖ وَسَلَّم

## ﴿1﴾ د اِعتِکاف په بَرَکت د ښار د پاره مَدَني مرکز حاصل شو

د چِترا دُرګه (صوبه کرناټک الهند) د "مسجدِ اعظم" مُتَوَلِّیان او څه مُقامي مسلمانان د

عاشقانِ رسول دِيني تحريک **دعوتِ اسلامي** په باره کښې په بعضو غلط فهمو کښې اخته وو. په ډېره مُشکله هلته د رَمَضَانُ الْمُبَارَک د **اِجتِماعي اِعتِکاف** اجازت ورکړے شو. د دوو مُتَوَلِّيانو ځامن هم مُعتَکف شول. د مَدَني مرکز ورکړي شوي جَدوَل مطابق د سُنَّتو ډکو حلقو، سُنَّتو ډکو بيانونو، د نعتونو ښکلو آوازونو، رِقَّت ناکو [يعني ژړوونکو] دُعاګانو او د ګڼ شمير مُعتَکفينو بهترين اِنتِظام ئې چې اوليدو نو مُتَوَلِّيان صاحِبان حيران پاتې شول او دومره مُتأَثِّره شو چې په آخره ورځ ئې ټولو مُعتَکِفينو ته تُحفې ورکړې او ګُلونه ئې پرې اوشيندل. **دعوتِ اسلامي** ئې اُوپيژندو او هغه حَضَراتو خپل زير تَولِيَت عظيم الشّان "**مَسجِدِ اَعظم**" کښې د دعوتِ اسلامي د دِيني کارونو مکمل اِجازت ورکړو او اَلْحَمْدُلِلّٰه! "**مَسجِدِ اَعظم**" د هغه ښار "مَدَني مرکز" جوړ شو. اَلْحَمْدُلِلّٰه! د دواړو مُتَوَلِّيانو هغه دواړو ځامنو ګيرې مبارکې پريښودې او د دعوتِ اسلامي دِيني ماحول کښې شامل شول.

ذکر کرنا خدا کا يہاں صبح وشام	ديني ماحول ميں کرلو تم اعتکاف
پاؤگے نعتِ محبوب کی دھوم دھام	ديني ماحول ميں کرلو تم اعتکاف

(وَسائلِ بخشِش ص ٢٤٢، ٢٤٣)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب!	صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## ﴿2﴾ د اِعتِکاف فيض [يعني بَرَکت] انګلينډ ته اورسيدو

سکهر ښار (سندھ) ته په رَمَضَانُ الْمُبَارَک (1410ھ. 1990ء) کښې يو اِسلامي ورور د **اِنګلينډ** نه راغلو. د اِسلامي وروڼـو په تَوجُّه ورکولو د هغه يو خپلوان اِسلامي ورور په هغه **اِنفرادي کوشش** اوکړو او **عاشِقانِ رَسُول** سره **اِجتِماعي اِعتِکاف** کولو د پاره ئې راضي کړو او اَلْحَمْدُلِلّٰه! هغه **مُعتَکف** شو. په يو خالص انګريزي ماحول کښې اوسيدونکے

چې کله په اِعتِکاف کښې کښيناستو او هغه د خوږ نبي ﷺ خوارِه سُنَّتونه او ضروري اَحکام زده کړل، د قَبْر و آخرت احوال ئې چې واوريدل نو د يو مسلمان په حيثِيَّت ئې په زړه ډير اثر اوشو. اَلْحَمْدُلِلّٰه! د **اِجتِماعي اِعتِکاف** په بَرَکت ئې ګُناهونو نه توبه اوکړه او د عاشقانِ رسول دِيني تحريک **دعوتِ اسلامي دِيني ماحول** کښې شامل شو. **ګيره** ئې پريښودله، شنه **عمامه شريفه** ئې په سر کړه، د فيضانِ سُنَّت درس او بيان ئې زده کړل او د اِعتِکاف په دواران کښې ئې د سُنَّتو ډک بيانونه شروع کړل! او نِيَّت ئې اوکړو چې **انګلينډ** ته لاړ شم نو د دعوتِ اسلامي ډير ډير دِيني کار کولو کوشش به کووم. اَلْحَمْدُلِلّٰه! هغه په **انګلينډ** کښې د دعوتِ اسلامي مُبَلِّغ او د دولسو دِيني کارونو ذِمَّه دار جوړ شو، د هغه د بچو مور هُم **دِيني ماحول** کښې شامِله شوه او د **انګلينډ** په شان د بے حيائي په ماحول کښې د اوسيدو باوجود هُم **مَدَني بورقه** په سر کوي، هغې پخپله **قُرآنِ مجيد** صحيح زده کړو او اوس ئې **مَدرَسةُ الْمَدينه** (بَالِغات) کښې اسلامي خويندو ته وائي او د اِسلامي خويندو د دِيني کارونو **تنظيمي ذِمَّه داره** هم ده.

کرکے ہمت مسلمانو آجاؤتم دینی ماحول میں کرلوتم اعتکاف
اُخروی دولت آؤکماجاؤتم دینی ماحول میں کرلوتم اعتکاف

(وَسائلِ بخشِش ص ٦٤٣)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## ﴿3﴾ زه فيضانِ مدينه نه بيرته نه ځم

د **تحصيل** کماليه دارُ السَّلام (پنجاب پاکستان) يو اِسلامي ورور چې کله په نهم کلاس کښې وو. د هغه د دوستانې يو ګروپ وو، دا ټول به د سکول نه اوتښتيدل، ډير زيات

فُضُول به ګرځيدل، نيمې شپې پورې به ئې کرکټ کولو، په انټرنيټ کلب کښې به ئې ښه ډير وخت بربادولو، ټوله ورځ به ئې په شريکه په کيبل فِلمونه کتل، د سندرو اوريدو خو دومره شوقيان وو چې د شپې به هُم په سندرو اوريدو اوريدو اُوده کيدل او سحر به چې راپاخيدل نو هُم ورومبے کار به ئې مَعَاذَالله هم دا سپيره کار يعني سندرې اوريدل وو. فينسي [يعني ښکلې فيشني] جامې به ئې واغوستلې او دې ټولو به په شريکه مَعَاذَالله ثُمَّ مَعَاذَالله جينکئ چيړلې او ډيره ډيره بدنظري به ئې کوله. هغه اِسلامي ورور به چې کله خپلې مور پوهه کولو نو هغې سره به ئې جګړه کوله. که پلار به ورته د نـمانځه حُکم اوکړو نو هغه نه به ئې هم ځان اخوا ديخوا کړو. افسوس! د اصلاح ئې څه طريقه نه وه. الله پاک دې يــې د مشر ورور سره ښه اوکړي چې هغه ورته سمه لار اوښودله او د رَمَضَانُ الْمُبَارَک په آخرئ عشره کښې ئې ورته اِعتِکاف کښې د ناستې اُووئيل. ده ته په صحيح معنو کښې دا هُم نه وه معلومه چې اِعتِکاف څه ته وائي! ده بالکل انـکار اوکړو خو مشر ورور ئې په څه طريقه پوهه کړو او د عاشقانِ رسول دِيني تحريک دعوتِ اسلامي مَدَني مرکز فيضانِ مدينه (سردار آباد [فيصل آباد]) کښې کيدونـکي اِجتِماعي اِعتِکاف کښې ئې کښينولو. څلور پينځه ورځې خو ئې زړه بالکل نه لګيدو او د تښتيدلو کوشش ئې کولو خو کامياب نه شو. هغې نه پس ئې خوند ورکړو، او بيا خو ورته هُغه روحاني سُکون حاصل شو چې د اختر په شپه ئې مسلسل هُم دا وئيل چې زه کور ته نه ځم، زه نن شپه هُم دلته فيضانِ مدينه کښې تيرول غواړم.

تم گھر کو نہ کھینچو نہیں جاتا نہیں جاتا
میں چھوڑ کے فیضانِ مدینہ نہیں جاتا

صَـلُّـوْا عَـلَی الْـحَـبِـيْـب! صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## ﴿4﴾ د اِعتِکاف په بَرَکت ئې د زنګونانو درد ښه شو

د **جامِعَةُالْمدِينه** (کراچۍ) يو طالِبِ عِلم ته رَمَضَانُ الْمُبَارَک (۱٤۲٦ھ. 2005ء) کښې د عاشقانِ رسول دِيني تحريک **دعوتِ اسلامي** عالَمي مَدَني مرکز **فيضانِ مدينه** (کراچۍ) کښې د اِعتِکاف سعادت حاصل شو. هلته ئې **د يو ډير عُمر سپين ږيري** سره ملاقات اوشو، هغه [سپين ږيري کس] اُووئيل: ډيرو کلونو نه زما په زنګونانو کښې درد وو، چې عالَمي مَدَني مرکز **فيضانِ مدينه** (کراچۍ) ته اِعتِکاف د پاره راغلم نو اَلْحَمْدُلِلّٰه! د دې په بَرَکت په ما کرم اوشو او زما د زنګونانو درد ختم شو.

درد ٹانگوں میں ہو درد گھٹنوں میں ہو — دینی ماحول میں کرلو تم اعتکاف
پیٹ میں درد ہو یا کہ ٹخنوں میں ہو — دینی ماحول میں کرلو تم اعتکاف

(وَسائلِ بخشش ص ٦٤٣)

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## ﴿5﴾ ږيره ئې پريښوده، عِمامه ئې په سر کړه

د **نَوساري** (صوبه ګُجرات، اَلهِند) يو ماډرن اِسلامي وررور د عاشقانِ رسول دِيني تحريک **دعوتِ اسلامي** له طرفه په رَمَضَانُ الْمُبَارَک (۱٤۲۳ھ. 2002ء) کښې کيدونکي **اِجتِماعي اِعتِکاف** کښې په (سَورت، ګُجرات) کښې مُعتَکِف شو. د مَدَني جَدوَل مطابق لګيدونکو د سُنَّتو ډکو حلقو، رِقَّت ناکو [يعني ژړوونکو] دُعاګانو او د ذِکر و نعت ښکلو آوازونو ئې په زړه ډير اثر اوکړو او د **عاشِقانِ رَسُول** د صُحبتونو هُغه بَرَکتونه ئې حاصل کړل چې تپوس مه کوه! ږيره مبارکه ئې پريښودله، عِمامه شريفه ئې په سر کړه او ترقي ئې کوله کوله د دې لِيک د وخته پورې د خپل ښار د مُشاورت د نګران په

حيثيَّت دِيني كارونه عامولو كښې مصروف دے.

سنتوں کی تم آکر کے سوغات لو　　دینی ماحول میں کرلو تم اعتکاف
آؤ بٹتی ہے رحمت کی خیرات لو　　دینی ماحول میں کرلو تم اعتکاف

(وَسائلِ بخشِش ص ٦٤٣)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب!　　صَلَّى اللهُ تَعالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## ﴿6﴾ كورنئ جګړه ئې ختمه شوه

د حيدر آباد، (سندھ، پاكستان) يو اِسلامي ورور عبدُ الرَّزّاق عطّاري چې د ټنډو جام اګريکلچرل يونيورسټئ ليب انچارج وو، دوه ځامن ئې د **دعوتِ اسلامي** دِيني ماحول كښې شامل وو خو هغه پخپله د نـمونځونو او سُنَّتو نه لرې وو او ذِهن ئې مكمل طور دُنيادارئ والا وو. په رَمَضَانُ الْمُبَارَک كښې د **اِنفرادي كوشش** په ذريعه **اِجتِماعي اِعتِكاف** كښې د شركت دعوت وركړے شو نو هغه اووئيل: زما د بچو مور خفه شوې ده او تلې ده پلار كره ناسته ده، كه زه اِعتِكاف اوكړم نو آيا هغه به راشي؟ ورته اُووئيل شو چې آو اِنْ شَآءَاللّٰه را به شي. چنانچه هغه (غالباً د ١٤١٦هـ. 1990ء) د رَمَضَانُ الْمُبَارَک په آخرئ عَشَره كښې **فيضانِ مدينه** حيدر آباد كښې **عاشِقانِ رَسُول** سره مُعتَكف شو. تربِيَّتي حلقو، رِقَّت ناكو [ژړوونكو] دُعاګانو او ښكلو نعتونو ئې زړه بالكل بدل كړو! ګناهونو نه ئې توبه اوكړه! د نـمانځه د پابندئ پوخ عهد ئې اوكړو، ږيره ئې پريښوده، عمامه ئې په سر كړه او نعتونه وئيل ئې شروع كړل. دے لا په اِعتِكاف كښې وو چې خفه شوې د بچو مور ئې واپس كور ته راغله او كورنئ جګړې ئې هُم ختمې شوې. د اِعتِكاف په بَرَكت ئې مَدَنـي لِباس اغوستل شروع كړو او مَدَني قَافِلو كښې ئې سفر هُم اوكړو. **دِيني ماحول**

کښېي اوسيدل يې اختيار کړل او په هُم هغه کال په ووه ويشتم رَبِيعُ الْاَوَّل شريف د زيارت په ورځ وفات شو، اِنَّا لِلّٰهِ وَ اِنَّاۤ اِلَيۡهِ رٰجِعُوۡنَ ﴿۱۵۶﴾

گور تيره کو تم جگمگاتے چلو ديني ماحول ميں کرلو تم اعتکاف
راحتيں روزِ محشر کی پانے چلو ديني ماحول ميں کرلو تم اعتکاف

(وَسائلِ بخشِش ص ٦٤٣)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د ژوند د آخري کال مُتَعَلِّق يو عِبرتناک رِوايت

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! په دې "مَدَني سپرلي" کښېي د عِبرت ډېر مَدَني گُلونه دي مرحوم عبدُ الرَّزَّاق عطّاري واقعي ډېر خوش نصيبه وو چې د وفات نه لږه موده مخکښې ورته دِيني ماحول کښې شامليدل نصيب شو او يقيناً هغه بنده خوش نصيبه وي څوک چې د مرگ نه مخکښې مخکښې توبه اوکړي نيک شي او د سُنَّتو په لار روان شي او ډېر غټ بدنصيبه دے هغه کس څوک چې ډېر نيکۍ کوونکے او د سُنَّتو په لار روان وي او د مرگ نه لږه موده مخکښې مَعَاذَاللّٰه ماډرن شي او په گناهونو کښې اخته شي او **دِيني ماحول** پريږدي. چې کله هُم تاسو شيطان د يو ذِمَّه دار کس نه خفه کړي يا هسې سستي درواچوي يا مو په دُنياوي کاروبار کښې ښه اونخښلوي يا د واده وغيره جوش درولي او د **دِيني ماحول** پريښودلو مشوره درکړي نو په دې حديثِ پاک باندې غور کوئ. اُمُّ الْمُؤمِنِين حضرتِ سَيِّدَتُنا عائشه صِدِّيقه رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا نه رِوايت دے چې رَسُولُ اللّٰه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائيلے دے: چې کله **اللّٰه** پاک يو بنده سره د ښيگړې اِراده فرمائي نو د هغه **د مرگ نه يو کال مخکښې** يوه فرښته مُقرره کړي چې هغه [فرښته] يې

مسلسل سمې لاړې ته را اړوي تر دې چې هغه په خير (يعني ښيګړه) باندې مړ شي او خلق وائي: فلانکے کس په ښه حالت مړ شوے دے. چې کله داسې خوش نصيبه کس مړ کيږي نو د هغه ساه په وتلو کښې تادي کوي، هغه وخت هغه **الله** پاک سره مُلاقات خوښوي او **الله** پاک د هغه ملاقات [خوښوي]. چې کله **الله** پاک چا سره د بدئ اِراده اُوفرمائي نو د مرګ نه يو کال مخکښې يو شيطان په هغه مُسَلَّط کړي چې هغه يې مسلسل تير باسي [يعني دوکه کوي] تر دې چې هغه په خپل بدترين وخت مړ شي هغه ته چې کله مرګ راځي نو د هغه ساه په نخښتو شي هغه وخت دا کس **الله** پاک سره ملاقات نه خوښوي او **الله** پاک هغه سره مُلاقات [نه خوښوي]. (ذِکرُالموت مع موسوعة ابنِ ابی الدُّنیا ج۵ ص۴۴۳ حدیث ۱۵۷ مُلَخَّصاً)

گنہ کرتے ہوئے گر مر گیا تو کیا کروں گا میں     بنے گا ہائے میرا کیا کرم فرما کرم مولٰی

(وَسائلِ بخشِش ص ۹۷)

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب!     صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## ﴿7﴾ کور والؤ به د کوره ويستلو

د مُظفر ګړه (پنجاب، پاکستان) يو اِسلامي ورور شروع شروع کښې ډير زيات وران کارے ځلمے وو، د شپې به ئې چې د سندرو درې څلور کيسټې نه وې اوريدلي تر هغې به خوب نه ورتلو، ټوله ټوله شپه به ئې په فُضول ګرځيدو او ګناهونو کښې تيريدله، په هره خبره به ئې کور کښې جنګ کولو، **کور والا به ترينه بيزاره شو او د کوره به ئې اُو ويستلو**، يو دوه ورځې به اخو اديخوا ګرځيدو بيا به ئې کور ته د راتلو څه ترکيب جوړ شو. غرض دا چې د هغه د ژوند شپې او ورځې په ډير غلط انداز بربادېدلې. د هغه يو نزدې خپل د عاشقانِ رسول دِيني تحريک **دعوتِ اسلامي** د علاقائي مُشاورت نګران وو،

هغه پرې **اِنفرادي كوشش** اوكړو او د رَمَضَانُ الْمُبَارَک (١٤٢٥هـ. 2004ء) په آخرئ عَشَره كښې ئې اَډّے والي مسجِد (مُظفر ګړه) كښې د **دعوتِ اسلامي اِجتِماعي اِعتِكاف** كښې كښينولو. د كراچئ نه يو مُبَلِّغ راغلے وو، دے د هغه د حُسنِ اخلاق نه ډير مُتأَثِّره شو او تيرو ګُناهونو نه ئې توبه اوكړه او د هغه په لاسو ئې شنه عِمامه **شريفه** په سر كړه. د ووه وِيشتمې شپې د سُنَّتو ډک بيان نه پس كيدونكي رِقَّت ناكې [يعني ژړوونكې] دُعا ئې په زړه ډير اثر اوكړو، هغه يوې ژړا اونيولو او تر سحره پورې ئې ژړل. د اختر په دويمه ورځ ئې د سحر د نـمانځه په وخت كښې لا سترګې نه وې غړيدلې چې يو بزرګ ئې په خوب كښې اوليدو او هغه بزرګ د ده نوم واخستلو چې ”د سحر د نـمانځه وخت شوے دے او ته لا تر اوسه پورې اُوده ئې!“ هغه فوراً په خوب كښې دواړه لاسونه د قيام په شان اوترل او چې سترګې ئې اوغړيدلې نو لاسونه ئې هُم هغسې ترلي وو. دې خبرې ئې په زړه ډير اثر اوكړو او لا ړو په جُمات كښې ئې جَمعې سره نـمونځ ادا كړو، د خپل ښار په هفته واره اِجتِماع كښې ئې پابندئ سره حاضريدل شروع كړل، **اللہ** پاک پرې نور كرم اوكړو او په **جَامِعَةُ الْمدِينه** كښې ئې د درسِ نِظامي كولو سعادت حاصلول شروع كړل. په خپله دَرَجه كښې تنظيمي طور د مَدَني انعاماتو ذِمَّه دار جوړ شو د **اللہ** پاک پرې دا كرم هُم اوشو چې د طَلَبه د پاره كوم ٩٢ مَدَني انعامات دي په هغه ټولو ئې د عمل كولو سعادت حاصل كړو. **اللہ** پاک دې اِستِقامت وركړي. اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

چھوٹ جائے گی فلموں ڈراموں کی لت — دینی ماحول میں کرلو تم اعتکاف
خوش خدا ہوگا بن جائے گی آخرت — دینی ماحول میں کرلو تم اعتکاف

(وَسائلِ بخشِش ص ٦٤٣)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## ﴾8﴿ د جُمات خطِيب جوړ شو

د سعید آباد، بَلدِیه ټاؤن، کراچئ یو اِسلامي ورور د عاشقانِ رسول دِیني تحریک **دعوتِ اسلامي** په **مَدرَسةُالْمَدِینه** کښې د قُرآنِ کریم تعلیم حاصل کړو، خو افسوس چې بیا هُم پوخ نـمونځ ګُزاره جوړ نه شو. اَلْحَمْدُلِلّٰه! د **دعوتِ اسلامي** عاشقان رسول سره ئې د **رَمَضَانُ الْمُبَارَک** د آخرئ عَشرې د اِعتِکاف کولو سعادت حاصل کړو، په زړه ئې مَدَنـي اثر اوشو، د غفلت د خوبه رابیدار شو، په حقیقت کښې ئې سترګې اوغړیدې او د نـمونځونو پابند جوړ شو. د اِعتِکاف په بَرَکت ئې **مَدَني قَافِلو** کښې د سفر کولو ذِهن جوړ شو، بیروزګاره وو، په کومه ورځ ئې چې د **مَدَني قَافِلے** نِیَّت اوکړو نو د هغوئي د ځائے د مُشاوَرت نګران ورته اُووئیل چې اِنْ شَآءَاللّٰه کار به دې سم شي. اَلْحَمْدُلِلّٰه! د مَدَني قَافِلے بَرَکت داسې ښکاره شو چې کوم جُمات ته د دوئي **مَدَني قَافِله** تلې وه د هغه جُمات د انتظامیه والؤ د هغه اِسلامي ورور د بیان انداز او دُعا ډیره خوښه شوه او **هغه ئې د هغه جُمات خطیب جوړ کړو!** دغسې د هغه د روزګار ذریعه هُم جوړه شوه! **اللّٰه** پاک دې هغه ته د دعوتِ اسلامي دِیني ماحول کښې اِستِقامت ورکړي.

اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

تنگ دستی کا حل بھی نکل آئے گا　　دینی ماحول میں کرلو تم اعتکاف

روزگار اِنْ شَآءَاللّٰہ مل جائے گا　　دینی ماحول میں کرلو تم اعتکاف (وَسائلِ بخشِش ص ٦٤٣)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب!　　صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## ﴾9﴿ عُمر ئې په غفلتونو کښې تیریدلو

د **موډاسا** (ګُجرات، اَلهند) د یو ماډرن [فیشني] اِسلامي ورور عُمر په غفلتونو کښې تیریدلو، د ګناهونو سلسله وه، په دې کښې پرې کرم اوشو! د کرم سبب داسې جوړ شو

چې د رَمَضَانُ الْمُبَارَک (۱٤۲۳ھ. 2002 ء) په آخرئ عَشَره کښې د عاشقانِ رسول دِيني تحريک **دعوتِ اسلامي اِجتِماعي اِعتِکاف** کښې ورته کښيناستل نصيب شو، د **عاشِقانِ رَسُول** د با بَرَکته صُحبت به څه وائي! د سُنَّتو ډکو بيانونو او خوندورو نعتونو په بَرَکت د هغه قِسمت بدل شو او داسې مَدَنـي جذبه ئې اُوموندله چې د هُم هغه اِعتِکاف په دوران کښې ورته د درس و بيان کولو سعادت نصيب شو او د ګيرې پريښودلو او عمامے شريفې تړلو نِيَّت ئې اوکړو. **عاشِقانِ رَسُول** سره **د يوې مياشتې** د **مَدَني قَافِلے** مسافر جوړ شو. ولې چې کافي باصلاحِيَّت وو لِـهذا اِسلامي وروڼـه ترينه مُتأَثِّره شو او **امیرِ قافِله** ئې جوړ کړو!

عاشقانِ رسول آوَدیں گے بیاں — دینی ماحول میں کرلو تم اعتکاف
دور ہوں گی عبادات کی خامیاں — دینی ماحول میں کرلو تم اعتکاف

(وَسائلِ بخشِش ص ٦٤٣)

صَـلُّـوْا عَـلَى الْـحَـبِـيْـب! صَلَّى اللهُ تَعالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## ﴿10﴾ هغه تَهَجُّد ګزاره شو

د سکھر (سندھ) يو بوډا اِسلامي ورور ته د رَمَضَانُ الْمُبَارَک (۱٤۲۵ھ. 2004 ء) په آخرئ عَشَره کښې د عاشقانِ رسول دِيني تحريک **دعوتِ اسلامي** له طرفه کيدونکـي **اِجتِماعي اِعتِکاف** کښې د شرکت کولو سعادت حاصل شو. [د نـمانځه د اَحکامو او سُنَّتو وغيره] د ښودلو او زده کولو باقاعده جدول جوړ وو، په هغې کښې ئې د نـمانځه اَحکام او څه سُنَّتونه وغيره ياد کړل، په لسو ورځو کښې ئې هُغه هُغه څه زده کړل چې په تير شوي ټول عُمر کښې ئې نه وو زده کړي، د سُنَّتو ډکو بيانونو اوريدلو او د **عاشِقانِ رَسُول** د صُحبت په بَرَکت ورته د آخرت فِکر نصيب شو، په زړه کښې ئې مَدَنـي اِنقلاب راغے او په "72 نيک اعمال" باندې د عمل کولو

جذبه ئې اوموندله. اَلْحَمْدُلِلّٰه! دویم "نیک عمل" ئې خاص طور مضبوط اونیولو او د هغې په بَرَکت ئې اَلْحَمْدُلِلّٰه! پینځه واره نـمونځونه جَمعې سره په وړومبي صَف کښې تـکبِیرِ اُولٰی سره د ادا کولو عادت جوړ کړو، اَلْحَمْدُلِلّٰه! د تَهَجُّد کولو اِستِقامت ئې هُم اوموندلو او د "نیک اعمال" رِساله هره میاشت خپل ذِمَّه دار ته د جمع کولو او په هفته واره اِجتِماع کښې د شرکت کولو سعادت حاصلول ئې هُم شروع کړو.

باجماعت نمازوں کا جذبہ ملے دینی ماحول میں کرلو تم اعتکاف
دل کا پژمردہ غنچہ خوشی سے کھلے دینی ماحول میں کرلو تم اعتکاف(وَسائلِ بخشِش ص ٦٤٤)

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ تَعالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## ﴿11﴾ یا رَسُولَ الله ستاسو دیدار غواړم

د کهاریاں (گُجرات، پنجاب، پاکستان) یو اِسلامي ورور د عامو ځلمو په شان ماډرن او د فلمونو، ډرامو کتلو شوقي وو. خوش قسمتۍ سره ورته د رَمَضَانُ الْمُبَارَک په آخرۍ عَشَره کښې **عاشِقانِ رَسُول** سره **اِجتِماعي اِعتِکاف** کښې د کښیناستلو سعادت حاصل شو. د **عاشِقانِ رَسُول** د صُحبت به څه وائې، هغه په ژوند کښې وړومبے ځل داسې **دِیني ماحول** اولیدو، **دعوتِ اسلامي** سره ئې په زړه کښې ډیره مینه پیدا شوه. په زړه کښې ئې د حُضُورِ اَقدس صَلَّی اللهُ عَلَیهِ وَآلِهٖ وَسَلَّم د دیدار کولو ډیر ارمان وو، په اِعتِکاف کښې به ئې هره ورځ د دِیدار دعا کوله. ووه وِیشتمه شپه راغله او اِجتِماعِ ذِکر و نعت شروع شوه، په ذِکرُالله کښې پرې د بیخودۍ شان حالت راغے، بیا رِقَّت ناکه [یعني ژړوونکي] دُعا اوشوه نو هغه سترګې پټې کړې او په ژړا ژړا ئې صرف دا یو تکرار کولو چې "یارَسُولَ‌الله! ستاسو دیدار غواړم" ناڅاپه ئې په سترګو کښې د بریښنا په شان یو څرک اوشو او د یو نُوراني

مخ مبارک دیدار ئې اوکړو او یقین ئې اوشو چې دا خو زما خوږ خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دے! آه! آه! بیا ئې مخ مبارک د سترګو نه پټ شو. آه! ؎

شربت دید نے اک آگ لگائی دل میں — تپش دل کو بڑھایا ہے بجھانے نہ دیا
اب کہاں جائے گا نقشہ ترا مرے دل سے — تہ میں رکھا ہے اسے دل نے گمانے نہ دیا

اَلۡحَمۡدُ لِلّٰه! د ګناهونو نه ئې توبه اوکړه، ګیره ئې پرېښودله او د عمامے شریفې په سر کولو نِیَّت ئې هُم اوکړو. اَلۡحَمۡدُ لِلّٰه! د اختر په ورځ **عاشِقانِ رَسُول** سره د درې ورځو د **مَدَني قَافِلے** مسافر هُم جوړ شو. کراچۍ ته راغلو او په **جامِعَةُ الْمدِینه** کښې ئې درسِ نِظامي شروع کړو، د تعوِیذاتِ عطّارِیه کورس ئې هُم اوکړو او د **مجلِسِ مکتوبات و تعویذاتِ عطّارِیّه** له طرفه ورکړے شوې ذِمَّه دارۍ مطابق ئې د تعویذاتو بسته لګول هُم شروع کړه او په **جامِعَةُ الْمدِینه** کښې په خپله درجه کښې **مَدَني قَافِله ذِمَّه دار** هم جوړ شو.

گر تمنا ہے آقا کے دیدار کی — دینی ماحول میں کرلو تم اعتکاف
ہو گی میٹھی نظر تم پہ سرکار کی — دینی ماحول میں کرلو تم اعتکاف (وَسائلِ بخشِش ص ٦٤٥)

صَلُّوۡا عَلَى الۡحَبِيۡب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## ﴿12﴾ کامیډین مُبَلِّغ جوړ شو

د بالا سِنور (ګُجرات، هِند) یو ځلمے چې کامیډین [ټوقمار] وو. په اخوا دیخوا لطیفو کولو خلق خندول ئې مشغله وه، په ودونو کښې به خلقو مائمیکري فنکشن [یعني د نقلونو کولو پروګرام] د پاره بوتللو. د رَمَضَانُ الْمُبَارَک په آخرۍ عَشَره کښې ورته عاشقان رسول سره **اِجتِماعي اِعتِکاف** کښې د کښېناستلو سعادت حاصل شو. تر اوسه پورې


صرف د دولت ګټلو په فکرونو کښې وو، اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د اِعتِکاف **ديني ماحول** کښې ورسره د آخرت د بهترئ فِکر پيدا شو، تيرو ګناهونو نه ئې توبه اوکړه او د سُنَّتو مُبَلِّغ جوړ شو او خپل ځان ئې دعوتِ اسلامي د پاره پيش کړو. د دې لِيک د وخته پورې تنظيمي طور د عاشقانِ رسول دِيني تحريک **دعوتِ اسلامي** د يو ډويژنل مُشاورت د نِګران په حيثِيت د دعوتِ اسلامي دِيني کارونه کوي، د دِين د پاره د هغه د قربانئ ورکولو حال دا دے چې هره مياشت ئې 25 ورځې د دعوتِ اسلامي دِيني کارونو د پاره وقف کړې دي.

اِنْ شَآءَ اللّٰه بھائی سدھر جاؤ گے ديني ماحول ميں کرلو تم اعتکاف
مرضِ عصياں سے چھٹکارا تم پاؤ گے ديني ماحول ميں کرلو تم اعتکاف

(وَسائلِ بخشِش ص ٦٤٤)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د راتلونکې اونۍ مجله





978-969-722-618-4

01082471

فیضانِ مدینہ محلہ سوداگران، پرانی سبزی منڈی کراچی

UAN +92 21 111 25 26 92 0313-1139278

www.maktabatulmadinah.com / www.dawateislami.net

feedback@maktabatulmadinah.com / ilmia@dawateislami.net